# الله عزوجل فرمايلي: د آدم زوی ما ازاروي، په زمانې بد وايې، حال دا چې زه زمانه يم، چاره زما په لاس کې ده، شپه او ورځ اړوم راړوم

له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "الله عزوجل فرمايلي: د آدم زوی ما ازاروي، په زمانې بد وايې، حال دا چې زه زمانه يم، چاره زما په لاس کې ده، شپه او ورځ اړوم راړوم".
[صحيح] [متفق عليه دی]

نبي ﷺ خبر ورکړی چې الله تعالی په قدسي حديث کې فرمايي: انسان ما ازاروي او زما په حق کې نېمګړتيا کوي، کله چې د مصيبتونو او ناخوالو پر مهال پر زمانه بد وايې؛ ځکه الله جل جلاله د هرې پېښې چارسمبالی او مدبر دی؛ نو پر زمانې بد ويل په الله جل جلاله بد ويل دي، او زمانه خو يو مسخر مخلوق دی، چې د الله تعالی په امر پکې پېښې واقع کېږي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee